مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۳/۰۳/۱۸

# باور

یو بت تراش پخپل ښکلي تیره وتوري، مجسمه ورڅخه جوړه کړي، درمسال ته یې یوسي، د بګوان نوم وربانديکیږدي او بیا د تعظیم په پار ورته سر ښکته کړي؛ همدا باور دی. یوه میینه پیغله چې پلار یا ورور یې د خپلې خوښې ځوان ته په نکاح نه ورکوي، هغه خواره کې درې پنجشنبې لوڅې پښې زیارت ته ځي، د منجاور لپاره یې نذرانه په پلو پورې غوټه کړې وي او هلته په کټارو پورې رنګا رنګ توټې وتړي، ګوندې که مراد یې پوره شي؛ همدا باور دی. د کرونا مریض ته په کار ده چې له بل کس څخه یونیم ګز واټن ونیسي، خو هغه په ډېرې تلوسې د کوم دمګړي خلوت خانې ته د شفا په نیت ورځي. ملا صیب ورته د اوبو ګیلاس دموي او خپلې لاړې په کې تف کوي، دا یې بې خاره په سر را اړوي؛ همدا باور دی.
یو کس د خپلې مبارزې د حقانیت په خاطر وایي چې هغوئ ته له آسمانه بې پوستکې پسونه راغلي او په ونه کې ځوړند وو، نور ورته ژاړي او د تایید سرونه ورته خوځوي؛ همدا باور دی. د فبرورۍ په شپږمې چرګ بانګ مهال، ترکیه د دې صدۍ یوې هیبتناکې او زاره چاودې زلزلې ولړځوله. په سبانۍ ورځ بله زلزله په داسې حال کې راغله چې یو ترکي ژورنالست چې له خدای او دین سره په همیشني جنګ مشهور دی په ټلویزیوني پروګرام کې په ژوندۍ بڼه خبرې کولې. رنګ یې والوت، اوتر اوتر یې یوې خوا بلې خوا ته وکتل، له څوکۍ پاڅېد، ناڅاپه یو ځواکمن ذات وریاد شو او د بسم الله بسم الله چیغې یې پیل کړې؛ همدا باور دی.
یو ماشوم چې کله له خطر سره مخ شي، نو لومړنۍ چیغه یې پلار ته وي، ځکه هغه د ده په وړوکي عقل کې اتل او ژغورونکی دی، همدا باور دی. یو تن به ښه پوهیږي چې په فلاني قبر کې د الله یو بنده څو پیړۍ وړاندې خښ شویدی، حقیقت خو دا دی چې هغه مړ مسکین د دې ژوندي عقیدتمند دعا ته اړ دی، خو دی یې د قبر کاڼي په ځان پورې سولوي چې ننکۍ او بواسیر یې ښه شي، همدا باور دی. خوشبویي هیڅ چا نه ده لیدلې، خو د هر چا خوښیږي، اوسپنه کلکه، واوره سپینه او سکاره تور دي، که یو څوک چورلټه بې سواده او په غبرګو سترګو ړوند هم وي، خو د زړه په تاخچو او د ذهن په حجرو کې به یې انځور د نورو په څېر وي، همدا باور دی.
د نړۍ د پاو کم دوه ملیارده مسلمانانو ۸۹ سلنه سنیان او یواځې ۱۱ سلنه یې اهل تشییع دي. دغه لوی اکثریت عقیده لري چې د مِهدي مُنتَظر خپل نوم به محمد، د پلار نوم عبدالله او له قیامت څخه وړاندې به په مکې کې د یو مصلح او واکمن په توګه راڅرګند شي او د عدل نظام به راولي. خو اثنا عشري « دوازده امام فرقه » وایي چې هغه دولس پیړۍ وړاندې زیږیدلی دی، ژوندی دی، معصوم دی، د عراق د سامراء په یوې سمڅې کې پټ دی او ولایت فقیه (آیت الله خامنه اي) یې نماینده ګي کوي، همدا باور دی.
نو د مشت نمونه ای خروار له دې بیلګو څخه جوتیږي چې باور یو داسې فکري او عقیدوي بهیر دی چې په هیڅ لابراتوار او محکمې کې ثبوت ته اړتیا نه لري. همدا شان د فلسفي تعریف له مخې، اعتماد یا باور هغه لید لوری دی چې د سم او ناسم په اړه یې څوک تحقیق او څیړنې ته اړتیا نه ویني. البته څه، مثبت فکر او په خپل هوډ باندې کلک دریدل د باور پیلامه ده. طبیعي ده چې هر انسان خپل ځان، خپلې وړتیاوې، نیمګړتیاوې او کمزورۍ له بل هرچا څخه ژر او په آسانه توګه درک کولای شي. د ښه احساس درلودل مهارت دی خو د اعتماد او باور معنا نه لري، نو په هرڅه کې شک لرل، د انسان باور په سیند لاهو کوي؛ له همدې وجې په ټولنه کې بې اعتباره سړی یا میرمن تر هرچا ډېر ځوریږي او څوک دوه توټې ارزښت نه ورکوي.
د امریکا د فورډ موټرو مخترع او نومیالی لیکوال، هنري فورډ (Henry Ford) وایي: «که تا د یو کار کولو ته ملا وتړله، نو پوه شه چې ته یې کولای شې، خو که زړه نا زړه او اراده دې پڅه شوه، نو هم مات شوی هم ناکام، همدا ستا باور دی چې د یو فکر په بیا بیا تکرار سره منځته راځي». اروا پوهان وایي: په خپل ځان ویسا د هر انسان په ځېه او ټومنه کې یو پټ عنصر دی چې د وخت په تیریدو، د پیښو په رامنځ ته کیدو او د چاپیریال څخه په اغیزمند کیدو سوکه سوکه رامنځ ته کیږي. په ځان باور، د خلکو د ځارنې او د هغوئ د چلند کاپي ده او د هغه له مخې یو کس د خپل ځان ارزښت په خپله ټاکي. په خپل ځان بې باوره خلک تل دا احساس لري چې دوئ کمزوري، بیوسه او د ټولنې د نورو تکړه وګړو په تله د تللو وړ نه دي؛ نو تل یې د پښیمانۍ او شرم پرونې په ذهن غوړیدلې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

باور هغه اغزن سفر دی چې ډیر سواد، غټ مقام، لوړې شهادتنامې او اوږدې تجربې ته ضرورت نه لري، بلکې د الله تعالی په ذات کلک ایمان لرل او د ډار په وړاندې جرئت د دغه مزل د لنډه ولو تر ټولو غوره توښه ده. د نفسیاتو یو تکړه استاد لیکي: «کوم خلک چې په خپلو خبرو کې ډیر قسمونه خوري، درواغ وایي او د نورو په کمزوریو باندې شخوند وهي، په لوی لاس خپل حیثیت ته تاوان اړوي او د نورو باور کموي. دغه ډول وګړي په خبرو کې د رښتیا وایم، صادقانه وایم، اصلي خبره دا ده، له تا څه پرده او له مخې دې حیا، کلمې ډیرې کاروي چې د کاواکۍ، بې باورۍ او ناخوالۍ نښې دي». مثبت فکر او باور انسان ته شخصیت، وقار او انرژي ورکوي او د پرمختګ سبب یې ګرځي؛ خو د منفي باور انسانان تل د کار له پیله وړاندې، د یو عذر په لټه کې وي. له باور پرته ژوند ستونزمن دی، نو څومره چې موږ په خپل چاپیریال، ادارې او ټولنې کې اعتمادي ملګري او باوري فضا ولرو، هومره به مو د فکر پلویان ډیر او د نظر ملاتړي زیات وي.

د یقین کلمه ۲۸ ځلې په قرانکریم کې راغلې چې د باور، هڅې او درښت په مفهوم ده، البته دوه کرته د مرګ په مفهوم هم راغلې چې یو ځای د الحِجر په سورت کې ده: (وَ اعْبُدْ رَبَّکَ حَتَّی یَأْتِیَکَ الْیَقِینُ - ترهغې د خپل رب عبادت وکړه، ترڅو مرګ درته راشي). له بله پلوه د هجرت په پنځم کال، رسول علیه السلام د خندق / الاحزاب په غزوې کې د لوړې له لاسه په ګېډې پورې ډبرې تړلې وې، خو د کولنګ له دوهم ګوزار سره یې وویل: « الله تعالی ډیر ستر او زورور دی، ما ته د کسری د فتحه کولو کیلي راکړل شوه » پخپلې داعیې او رسالت باندې د همدې مزبوت باور پایله وه چې نهه کاله وروسته د قادسیې په جګړې کې د هغه د یو صحابي، سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه په مشرۍ فارس فتح شو.

فکر کوم زموږ په ټولنې کې د باور، یقین او اعتماد د ارزښت په هکله په دې کلیوال او دهقاني متل کې کاپیره معنا پرته ده چې وایي: (که میوه خامه وي پخیږي، خو چې انسان کچه شي، بیا یې پخیدل عمرونه غواړي).

---------------------------------------—

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوټیوب په چینل کې ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ